آصف بهاند ۲۰۱۶/۱۲/۲۵

# لارورکي لارويان

## شپږمه برخه

## کوردننه مهاجرتونه او نوي ستونزي

### د میدان ښار په لور:

د وحدتي توپکيانو او سیاف جان؟ د توپکیانو ترمنځ جګړه کله غلي او کله به روانه وه. وحدتیان د پرمختګ په حال کي وو. د جګړي لمبو له دهبوري، میرویس میدان او خوشال مینې نه لوخړي پورته کړي وي او کمپنی ته يي خوله اچوله.
له مور نه مي پرته، نوره ټوله کورنۍ زما د کشر ورو احمد شاه جان د ملګري محمد علي په مرسته د وحدتي توپکیانو له سیمي نه د میدان ښار په نیت د جګړي له کربښي واوښتله. سم مي په یاد نه دي؛ خو واړه زاړه، نر او ښځي به شل تنه وو. نور نو د خپل پلرني کلي، د میدان ښار د نرخ د دادل په لوري وخوځیدو.
هلته له رسیدو سره سم په خپله اشتباه پوه شوم. موږ د جګړي ویري دومره وارخطا کړي وو چي خپل سر او وضعي ته مو اصلاً پام هم نه وو. موږ له ښاري جامو، ښاري خبرو او ښاري حرکاتو سره کلي ته تللي وو، هغه هم کوم کلي ته. موږ نه شول کولای چي د هغو خلکو او هغه ځای له رسم و رواج او ناستي پاستي سره ځان دفعتاً برابر کړو؛ نوهغه و چي هلته مو هم ګزاره ګرانه شوه. خلک بیسواده، ټولنه وروسته پاتي او د ډیرو پخوانیو دودونو په لومو کي نښتي وه. هره ورځ يوه نوي ستونزه او یو نوی پیغور:
سرېي لوڅ شو، ټیکری يي ورو‌کی دی، کمیس يي لنډ دی، کالي يي رنګه دي، هله داسي شو، هله آسي شو او دي ته ورته نوري ستونزي. خلاصه ښاري مرغی د کلي په کپس کي نه ځایده.
خو دا حقیقت هم دهیرولونه دی چي دا میلمستیا یوه، دوي ،دری... شپې نه وه؛ نو دا زموږ خپلوان کوربانه به څومره خانان وو چي موږ يي د تنظیمي جګړو تر پایه ساتلي وای. دهمدغو دلایلو پر اساس زه او زما کوچنیان بیرته د سره اور په لوري، کابل ته وخوځیدو. خپل بچیان او میرمن مي چي د کابل په دهبوري کي په خپل کور کي ځای پر ځای کړل، بیرته میدان ښار ته د لطیف لالا په بچیانو او میرمن پسي وخوځیدم.
د لالا میرمن ناروغه وه، پیاده تګ يي نه شوکولای. دوی مي چي له خپل پلرني کلي نه را وخوځول، موټرله کلی نه تر میدان ښار پوري دیرش کیلومتر لار و وهله، په میدان ښار کي د غنیمتونو کپرنګ ږیرور ویل:
«کابل ته د موټر د تګ اجازه نه شته»
ما ویوښته ولي؟
هغه په ځواب کي را ته و ویل:
«دا د تورن صاحب امان امر دی چي کابل ته موټرمه پریږدئ.»
تورن امان چي د حزب اسلامي حکمتیار جان؟ لوړ پوړی قومندان و، دومره نا مرده، بي پته او بي پښتو سړی و چي خور يي په کابل کي، زموږ په کلي دهمرادخان کي واده وه، مره شوه، خبر ور ولیږل شو چي د خور مړی دي په ځای کړه، ده سر پسي و نه ګرځاوه او د خپلي خور مړی يي په ځای نه شو کړای؛ خو هلته په میدان ښار کي يي پرغره او سمه څه چي پر آسمانو يي هم لا امرونه چلول. کلیوالو (دهمرادخانیانو) موږ ته مخ را واړاوه چي دا خوستاسي میدانی ده، څه يي کوئ؟ په پای کي بله چاره نه وه، همالته په دهمرادخان کي مو په سوالي هدیره کي خښنه کړه.

### تر پله لاندي ولادت:

په همدي ورځ مي چي خپله وریندار او وریرونه کابل ته را خوځولي وو، په موټر کي یوه امیدواره ښځه هم موږ سره د کابل په امید روانه وه، کله چي ږیرور ماما د تورن امان فرمان موږ ته واوراوه، د ښځي خاوند وارخطا شو او زما وریندار ته يي حال و وایه او د خپلو خبرو په پای کي يي و ویل:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

خوري اوس به ځنګه شي؟
د وخت په تيريدو سره د ښځې زګيروي ډيريدل. ړيرور ماما چي د ښځې په حالت پوه شو، ور پورې خندل يې.
بارداره ښځه د دوو نورو ښځوپه مرسته د خلکو له ډلې جلا کړای شوه. بل ځای نه و، د مجبوريت له مخې يې تر يوه پلچک لاندې پنا واخيسته. له نيم ساعت تيريدو وروسته، وريندار راغله ويل يې:
شکر خدای په خير خلاصه کړه.
دا چي قومندان صاحب؟ ولې موټر کابل ته نه پريښودل، په دې پوه نه شوو، بيرته کلي ته هم د موټرتګ نا ممکنه و؛ موږ هم بله چاره نه درلوده، په پښو مو د کابل په لوري حرکت وکړ. له ميدان ښاره تر کابل پورې تقريباً ديرش کيلومتره لارده؛ خو موږ د پغمان تر دوه لارې پورې چي تقريباً پنځه ويشت کيلومتره کيږي، پياده مزل وکړ. له هغه ځايه تر دهبوري پورې په موټرکي لاړو، نور نو وريندار له حرکت نه پاتې وه درې ورځې په تپه پريوته.
بيرته مو کابل کې د مرميو تر چتر لاندې ژوند پيل کړ. د جګړې دمبوره به چا غلې کړې وای. هماغه خرک هماغه درک، هماغه سپکاوی او هماغه چور او تالان.
استاد اسد آسمايي چي فلسفه کې ماستري لري او د کابل پوهنتون پو وتلی او منلي استاد و، د ډيرو جالبو او نا معمولو کارونو په کولو او تر هغه هم د جالبو خبرو په ويلو سره، ځانته د خبرو او ناستې پاستې ځانګړی سبک لري. دهمدغو خبرو او کارونو له امله زموږ د حلقې ټولو يارانو ليونی اسد باله. حالات نورهم مخ په خرابيدو وو. ټولو ورته ويل چي انډيواله د ځان او کورنۍ غم دې کوه، ځان او کورنی د اور له دايرې وباسه. په وروستي ځل زه ورغلم او هيله مې ور نه وکړه چي کابل نور د ګزارې نه دی، ځان وباسه، ده را ته په ځواب کې و ويل:
«تاسو ماته ليونی وايئ، خوزه ليونی نه يم، تاسو ليونيان ياست. بهرنيان په زرګونو ډالر لګوي، راځي چي د دې جګړې او مرداري ننداره له نږدې وکړي؛ زه چي تيارهمدلته يم، ولې يې وړيا نندارو و نه ګورم.»
وروسته بيا د ځينو فرهنګيانو په ټينګار سره پيښور ته کډه شو، بيا د فرانسې دپارلمان په بلنه فرانسې ته راغی.
استاد اسد د کابل په تهيه مسکن کې کور درلود، له کابل څخه د ده تر وتلو وروسته د ده کور د شورای نظار دوو ټوپکيانو زور ګيره کړی و. کله چي ډنمارک ته راغی، يوه ورځ مې پوښتنه ځيني وکړه چي هغه کور دې ځنګه شو؟ لکه د تل په شاني يې يوه ليونی فلسفي خندا وکړه او وې ويل:
«هغه خو دوو پنجشيريانو لاندې کړی دی، په يوه کوټه کې يوه اړولې دي، په بله کوټه کې بل. دواړه ګواښيږي، يوبل ته وايې وزه، دا کور زما دی. زه اوس له کوره تير يم، که زما د کور په شخړه کې کوم يو و وژل شي، ما د کور د خاوند په نامه ځوک محکمې ته کش نه کړي چي راشه ځواب و وايه چي په کور کې دې قتل شوی دی.»

جالبه خولا دا ده چي استاد اسد د خپلې ژبې او فلسفي افکارو له لاسه ځو ځلې زندان هم ليدلی دی، خو خدای د ډاکتر شجاعي له سرنوشت څخه را وژغوره.

د ۱۳۵۷کال په پيښو کې يې يو وار د زندان بورس په نصيب شوی و چي د صدارت په توقيف خانه يې کې يې زنداني کړی و.
کيسه يې راته کوله چي په زندان کې زندانيانو ی وبل نه پوښتنه کوله چي ته يې ځنګه راوستی يې، ته يې ولې راوستی يې؟
کوم يو بزګر يې له کوم کلي نه راوستی و، هغه يې پوښتلی و چي ته يې ځنګه راوستی يې؟ بزګر ويلي وو:
انډيواله پوه نه شوم، په پټي مې اوبه سپرې کړې وې، بيل مې مځکه کې چوخ کړی و، پيتاوي ته ناست وم چي پټی اوبه شي، لويوميريانو له خپلې ځالي نه خاورې را ايستلې او ما ورو، ورو بيرته ور پورې وهلې، ځو تنه راغلل او زه يې لاس تړلی دلته راوستم. اوس مې هره شپه په وهلو پوښتي:
تا چي په سوري کې خاورې توبولې، په دې کې کوم شفر دی، ته د ګلبدين نفر يې، وايه ګلبدين چيرې دی؟
کومه ورځ يې په وهلو ډير تنګ کړی و. دی يو ساده بزګر و، نه يې ګلبدين پيژانده او نه برهان الدين. کله چي له وهلو ټکولو ډير تنګ شوی و، نو ويلي يې و:
هو زه ګلبدين پيژنم، اوس تاسو ته وايم چي ګلبدين ځوک دی او چيرې دی.
استخبارات والاوو سمدلاسه کمرې او ژورنالستان را حاضرکړي وو. هغوی ته يې و ويل چي موږ د ګلبدين لوی نماينده نيولی دی، راشئ چي اقرار کوي. د ژورنالستانو تر مخې يې بيا وپوښته چي ګلبدين ځوک دی او چيرې دی؟
ساده بزګر ورته ويلي و:
«ولې هغه خو معلومداره سړی دی، زموږ په کلي کې کجاوې اوبي.»
ده کوم بل ساده کليوال چي کجاوې يې جوړولې،هغه يې ياداوه.
اوس نو بايد سړی ښه فکر وکړي چي په دغسې نا پوهی کې به نور څومره بيګناه خلک تللي وي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

زموږ په وروسته پاتي ټولنه کې به لا نور څه تیر شوي وي چي قلموال او میډیا پرې خبرنه دي. داسي کیسي چي سړی باید هم ور ته وژاړي او هم ورته وخاندي. دا ټوکه مه ګڼئ، دا د استاد اسد د خولي خبره او پر ده باندې تیره شوې کیسه ده:
د طالبانو په واکدارۍ کې کومه ورځ استاد اسد په موټرکې سپور پوهنتون ته روان دی. کوم طالب موټر ته ختلی د ږیرو او لنګوټیو کنټرول کوي. استاد اسد ته چي رسیدلی، ور ته ویلي یې دي:
ښه! ږیره خو لرې، ولي لنګوټی نه لرې؟
ده ورته ویلي:
«اوبښه! نن مي لنګوټی هیر شوی دی، دا ده خولی مي پر سر ده.»
د استاد اسد په لاس کې د کتابونو خلطه وه، د طالب خلطي ته پام شوی، پوښتنه یې ځیني کړې چي په خلطه کې څه شی دي؟
استاد ویلي دي چي کتابونه دي.
طالب پوښتنه کړې:
څه د کفر خبرې خو به نه وي په کې؟
استاد ویلي:
نه اسلامي فلسفه ده.
ښه دا بل کتاب وښیه!
بل کتاب چي د کوم غربي لیکوال اثر و، د لیکوال عکس او بیوګرافي د کتاب پر پشتي باندې چاپ شوي وو. طالب چي عکس لیدلی و؛ نو استاد نه یې پوښتنه کړې وه چي:
«دا عکس ولي ږیره نه لري؟»
نو دلته دی چي موږ باید د غفلت له درانه خوبه راویښ شو او په دې باندې ځان پوه کړو چي زموږ په ټولنه، چاپیریال او وطن کې نویو خلکو او نویو بدلونونو څه بد مرغی رامنځ ته کړي دي او څنګه کولای شو دا بد مرغي له مخې لرې کړو.
اودا بل ډول نه کیږي،داسي کیږي چي موږ باید یو نوی نسل له نویو افکارو سره ټولني ته وړاندې کړو.ا

چي زما په خیلخانه په ولس وشول
و دي نـه شي پــه هـندو په مسلمان

(خوشال ختک)

د شیرمي برخي پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ